عبدالرحمن زمانی

# د هرات د حوت د ۲۴ مې نیټې پاڅون

افغانستان د ګران هیواد د ټولو اوسیدونکو افغانانو ګډ کور دئ . هغه کور چې د امپراتوریو په ګور شهرت لري . د افغانستان تاریخ هم د ټولو افغانانو د حماسو، سرښندو او قربانیو ډک تاریخ دئ . د افغانستان خلکو هر کله چې حکومتونه د دښمن سره د مقابلې نه عاجزه پاتې شوي، او یا پرې د ښمنانو ګوډاکي او لاس پوڅي حکومتونه ورتپلي، میدان ته رادنګلي او هر راز کورني او باندني زور زیاتي کوونکي طاقت ته یې غاښ ماتوونکي ځواب ورکړي دئ . د هرات د حوت د میاشتې د ۲۴ مې نیټې پاڅون او قیام هم په دغه لړ کې د هیواد د معاصر تاریخ یوه نه هیریدونکې حماسه ده .

د هرات د پاڅون او قیام په هکله پدې ځای کې یو څو لنډو ټکو ته اشاره لازمه بولم او هغه داچې :

- دغه پاڅون د ۱۳۵۷ کال په پای یا د حوت د میاشتې په وروستی هفته کې پیښ شویدئ . په دغه وخت کې د هیواد په نورو سیمو لکه کونړ او نورستان کې هم خلکو پاڅون کړې وو. دغه وخت لا روسانو پر افغانستان مستقیم تیري کړئ نه وو.
- دا پاڅون لکه د کونړ او نورستان د خلکو د پاڅون او قیام په شان د خلقي-پرچمي رژیم د جنایاتو په مقابل کې د خلکو خود جوشه پاڅون او غبرګون وو.
- دغو دواړو پاڅونونو په هیڅ ډلې او ټپلې پورې اړه نه درلوده، او د هغې د رهبرۍ او تنظیمولو هر ډول ادعا پوچه، باطله او بې اساسه ده .
- د هرات په قیام او پاڅون کې تر شلو زرو زیات کسان شهیدان شول، او د کونړ د کرهالې د یوې ورځې د شهیدانو شمیر هم تر ۱۲۶۰ کسانو زیات وو.
- د دغو دواړو پاڅونونو په ملاتړ د دغو سیمو د عسکري قواوو هیوادپاله منصبدارانو او عسکرو هم میدان ته راودنګل .

پوښتنه داده چې مونږ ولې تل د جنګ او مقاومت په میدان کې اتلان یو، او د سیاست په میدان کې ناکامان؟

دښمن ولې تل له دروازې شړل شوی او بیا له کړکۍ زمونږ هیواد ته بیرته رانتوتلی دئ؟

زما په فکر، لکه چې مخکې مې هم ویلي دي، مونږ د تاریخ نه زده کړه نده کړې، او کوم ملتونه چې د تاریخ نه درس او سبق نه اخلی، د هغوی اشتباهات بیا بیا تکراریږي، او هغوی د تاریخ په تکراریدو محکومه کیږی .

د تاریخ نه د بې خبرۍ یو عمده عامل مو هم دادئ چې تاریخ مو یا خو بهرنیان او یا هم زورمندان او واکمنان په خپله خوښه لیکي ، او هغه هم د اجیرو او مزدورو مؤرخینو او لیکوالو په وسیله .

مونږ لا اوس هم د تاریخ د استاد او ډاکټر په نامه کاذب شهرت ته د رسیدلي یوه په اصطلاح وتلي مؤرخ د اوتو، بوتو شاهدان یو، چې د تاریخي حقایقو په مسخه کولو او جعلي اسنادو او روایاتو په راوړلو سره د کاغذ پاڼي او خپل مخ توروي.

مونږ په پښتو کي يو متل لرو چي « پوزپريکړي که شرم درلودلای، نودچړي نوم به يي نه اخيستلای». دغه ککړ مؤرخ اوس هم تاريخي واقعيتونه مسخ کوي، تاريخی حقايق تر خاورو لاندي کوي، او پرته له کوم سنده د ملي ارزښتونو، شخصيتونواو شهيدانو وينو او قربانيوته سپکاوي ته دوام ورکوي . دغه تش په نوم افغان لا اوس هم د استعماري طاقتونو په هغو جوتو شخوند وهي ، کوم چي يي مربيان لا نور د ويلو جرأت نلري ، لکه دا چي گوندي د ميوند پر ملالي پوري تړل شوي حماسه د حقيقت نه لري خوشی خيالي افسانه ده. يا دا چي گواکي علامه سيد جمال الدين، افغان نه بلکي ايراني وو، يا دا چي د اماني رژيم او نهضت په وړاندي د انگريزانو دسيسي او توطئي حقيقت نلری، يا داچي روسانو د خلقيانو او پرچميانو د جنايت کاره رژيم په کودتا کي برخه نه درلوده او داسي نور .

لدي چي تير شو، خبره دا ده چي چه د دغه زر هاوو شهيدانو د وينو د توئيدو په قيمت مونږ څه لاسته راوړل؟
فقر او بيوځلي؟ بدبختي؟ بيسوادی؟ بی امنيتی؟ بيکاری؟ د هيواد او هيوادوالو دغه زار او خوار حالت چي تاسي ټول تري خبر ياست؟

که زمونږ د ولسونو د سرښندلو، قربانيو او مبارزو په برکت دروسيي امپراتوري دړي وړي شوه، او د منځنی ايشيا هيوادونو خپله خپلواکي تر لاسه کړه، او د برلين ديوال ونړيد، نو بيا زمونږ توره شپه ولي رڼا نه شوه؟

جهانی صيب د وياړ تر سر ليک لاندي يوه شعر کي وائي چي :

www.goftaman.com

ځومره شیریني دي د جنګ د میدانونو کیسې
ځومره آسان دي د شاباش او افرین ږغونه
ځومره خوږې دي د مېړونو د مردۍ خبرې
د اتـلانـو د سـرونو د بـازار نـکلونه
څه پر غـورږونو ښې لګېږي پخوانۍ سندري
د مستو پېغلو په اتڼ کې د زمرو نومونه
په څه غـرور د شهیدانو تر مزاره ورځي
د ښایستو نجونو ټولۍ ګېډۍ ګېډۍ ګلونه
خو چا پوښتنه له شهیده د زخمونو کړې؟
چا له اتل سره خواله د پرهارونو کړې؟
چا یې د مرګ پر پوله سترګو ته یوځل کتلي؟
چا یې په سترګو کي کیسه د ارمانو لیدلې؟
چا د شهید د بوري مور سوی کوګل کتلی؟
چا د ښایستې سرتوري کونډې وران اوربل لیدلی؟
چا په سینه کي د مرګي د ګولۍ زور لیدلی؟
چا د زړګونو ارمانو سوځلی کور کتلی؟
چې زولنو او ځنځیرونو ته نظمونه لیکي
هغه شاعر د سیاه چالونو سرې شپې لیدلې؟
د لړمانو په کاله کي یې خوبونه کړي؟
وچو هډو یې د نېښونو سلسلې څکلي؟
د هوښیارانو دا یوه خبره مې نه هېرېږي
"مځکه هغه سوځي چې اور وربانديي ولګېږي"

د هیواد د ټولو بې کفنه شهیدانو پاکو ارواحو ته د درود په استولو، په ګران هیواد کې د صلحې او عدالت د تامین او یوه موټی آزاده، آباده، با ثباته، پرقانون او ولسواکی ولاړ افغانستان په هیله!